**پوښتنه او ځواب**

**ټرمپ او د ناټو سرمشرېزه**



**پوښتنه:**

د ۲۰۱۸ م کال د جولای پر ۱۱ او ۱۲ مه، د ناټو سرمشرېزه د بلجیم  په پلازمېنه کې ترسره شوه. په دې سرمشرېزه کې د امریکا ولسمشر او د ناټو د سازمان ۲۹ غړو هیوادونو استازو ګډون وکړ. په دې غونډه کې د ټرمپ او د ناټو د نورو غړو هېوادنو د استازو ترمنځ خبرې اترې ډېرې توندې شوې او نږدې ټولې خبرې یې پر دې راڅرخېدلې، چې دوه سلنه کورنی ناخالص تولید به د پوځي لګښت زیاتوالي ته ځانګړی کوي. نو پوښتنه دا ده چې  ولې امریکا داسې کوي؟ او په راتلونکې کې به د یاد تړون برخلیک څه وي؟

**ځواب:**

د ځواب د لا روښانه کولو لپاره لاندې ټکي بیانوو:

1. د امریکا ولسمشر ټرمپ له ډیپلوماسۍ او ډیپلوماتیکي زاویې څخه بېل چلند کوي. هغه څه چې دی یې غواړي، هغه په ډاګه وایې او په څرګنده پر نورو فشار اچوي. هغه څه، چې په نورو هیوادونو کې خپلو سیالانو  ته ویل کېږي او د پردې تر شا او په خصوصي ناستو کې غوښتنه کېږي، دی همدغه څه په ډاګه وایې او غوښتنه یې کوي او تر پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش یې ډېر په تکبر او غرور سره وایې او غوښتنه یې کوي. پر همدې بنسټ، دی له مخکني ولسمشر اوباما څخه بدل دی، ځکه نوموړي خپل

کارونه د پردې تر شا کول، په نورو هیوادونو کې یې پر خپلو سیالانو فشارونه راوړل، سیاسي مانورونه یې ترسره کول او د یو انګرېز سیاست پوه په څېر یې پټه دیپلوماسي مخته وړله. په ۲۰۱۴ م کال کې مخکني ولسمشر اوباما هم دوه سلنه د ناخالص کورني تولید زیاتوالی د ناټو پر غړو هیوادونو ومانه او له مختلفو لارو یې فشارونه راوړل، چې یاد تړون ته غاړه کېږدي.

د ټرمپ تړون د ناټو له غړو هیوادونو سره د لګښت پر زیاتوالي باندې له شور ماشور او عامه ذهنیت اړولو پرته وښودل، چې د یاد تړون لاندې دوی نه بېلېدونکي او یو موټی دي او مشري یې د امریکا په غاړه ده. دغه راز په ظاهره، امریکا د یاد تړون د غړو له پرمختګ څخه خوښه ده، په داسې حال کې چې امریکا له دوی سره په سخت مخالفت کې ښکېله ده. د ناټو غړو هیوادونو له اوباما سره ژمنه کړې وه، چې تر ۲۰۲۴ م کال پورې به خپل ناخالص کورنی تولید د دوه سلنې دفاعي بودجې لپاره ځانګړې کوي، خو کابو ۱۵ غړو د جرمني، کاناډا، ایټالیا، بلجیم او هسپانیې په ګډون تراوسه د ۱.۴سلنې څخه کمه دفاعي بودجه ورکوي، چې په دې سره دوی خپله کړې ژمنه پوره نشوی کړای او دا کار ټرمپ په غوسه کړ. د امریکا د دې نوي پلان له مخې، د ناټو غړي هیوادونه به ژمن وي چې تر ۲۰۳۰ م کال پورې د ۳۰ ورځو په ترڅ کې ۳۰ خپلواک کنډکونه، ۳۰ د الوتکو ډلګۍ او ۳۰ جنګي بېړۍ چمتو کړي، څو د روسیې پر وړاندې په احتمالي نظامي عملیاتو کې برخه واخلي. امریکا د اروپا د مهارلو په موخه روسیه یو کاذب دښمن معرفي کوي، ترڅو په اورپا کې خپل نفوذ پراخ او اروپا له خپلواک نظامي ځواک له جوړلو او سیاسي پرېکړو له نیولو څخه منعه کړي او دې ته یې اړ باسي، چې د امریکا تر مشرتابه او نظامي چتر لاندې پاتې شي.

2. ټرمپ هغه ستونزه چې له خپلو متحدینو سره یې لري، ښه پرې پوهېږي او په دې هم پوهېږي چې د دوی قانع کول سخت دي، له همدې کبله د ۲۰۱۸ م کال د جولای پر ۱۰ مه، ده په بروکسل کې د ناټو سرمشرېزې ته د تګ په وخت کې په خپل ټوېټر پاڼه لیکي و: « د ده ناسته به په هلسنګي کې د روسیې له ولسمشر پوتین سره د ناټو تر سرمشریزې اسانه وي». دغه خبره ډېر واقعیتونه په ډاګه کوي؛ روسیه فرمان وړونکې ښکاري او چمتو ده چې د امریکا لپاره ځینې چوپړونه ترسره کړي، ترڅو ځینې خپلې ګټې ترلاسه کړي او په نړۍ کې له لومړي درجه دولت سره یوځای د یوه لوی نفوذ لورنکي دولت په څېر را څرګنده شي او همدارنګه د امریکا له شر څخه ځان خلاص کړي، په ځانګړې توګه د امریکا له نفوذ او نفوذي ساحې څخه چې امریکا غواړي روسیه مهار کړي. د اروپا په تړاو، داسې ښکاري چې امریکا د اروپا دښمنه او سیاله ده او اروپايي اتحادیه یې په دې موخه جوړه کړې ده، چې د امریکا پر وړاندې ودرېږي او سیالي ورسره وکړي. له همدې امله امریکا د یادې اتحادیې پر وړاندې خصمانه چلند کوي او په ډاګه هڅه کوي چې له منځه یې یوسي، ځکه نو له اروپايي اتحادیې څخه د برتانیې د وتلو له پلان څخه ملاتړ کوي. ټرمپ هغه بریتانوی تګلاره تر نیوکې لاندې ونیوله چې د اروپايي اتحادیې تر وتلو وروسته هم بریتانیه غواړي له اروپايي اتحادیې سره آزاده سوداګري وکړي، ده وویل:

« که دوی دې ته ورته هوکړه لیک لاسلیک کړي، موږ به د بریتانیې پرځای له اروپايي اتحادیې سره هوکړه لیک لاسلیک کړو، نو په دې سره به هغه د دوی هوکړه لیک له منځه ولاړ شي». ده وویل: « ما تریزامې ته وویل چې

څه باید وکړي خو دا قانع نه شوه او ماته یې غوږ ونه نیوه. دا غواړي یوه بېله لاره غوره کړي». ټرمپ د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیره د دې لپاره وستایله چې د تریزامې د پلان سره یې مخالفت وښود او له همدې امله یې استعفا ورکړه او زیاته یې کړه چې دی به لومړی وزیر شي» او د له نورو هیوادنو څخه هم په ډاګه وغوښتل چې اروپایي اتحادیه دې پرېږدي. ( بي بي سي د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۱۳ مه د ټرمپ په حواله راپور ور کړ ).

کله چې د فرانسې ولسمشر له امریکا لیدنه کوله، ټرمپ له هغه څخه وغوښتل چې اروپایي اتحادیه پرېږدي. د ۲۰۱۸ م کال د جون پر ۲۹ مه واشینګټن پوست راپور ورکړ: « په تېر اپرېل میاشت کې ټرمپ خپل فرانسوي سیال مکرون ته په سپینه ماڼۍ کې د یوې ناستې  په ترڅ کې وړاندیز وکړ چې له اروپایي اتحادیې څخه دې ووځي او په مقابل کې به امریکا ورسره دوه اړخیزه سوداګریز تړونونه وکړي». د دوو اروپایي مامورینو له خولې چې وایې: « ټرمپ مکرون ته وویل: تاسې ولې اوروپایي اتحادیه نه پرېږدئ؟»

3. ټرمپ له همدې امله پر اورپایي اتحادیه په ځانګړې توګه پر جرمني نیوکې کوي، ځکه چې د امریکا سره د یاد هیواد اړیکې ډېرې ترینګلي دي! د ۲۰۱۷ م کال د جون پر ۷ مه موږ د یوې پوښتنې په ځواب د کرکېچ د زیاتوالي دلایل په ځانګړې توګه له جرمني سره بیان کړي وو. موږ ویلي وو: ((جرمني په اوروپا کې ستر مالي مرکز او تر امریکا، چین او جاپان وروسته د نړۍ څلورم اقتصادي ځواک دی، ځکه ټرمپ پر جرمني سترګې ډېرې ښخې کړي دي او هڅه کوي د امریکا لپاره ډېرې پیسې په لاس راوړي، په ځانګړې توګه امریکا ادعا کوي چې روسیه د جرمني لپاره یو ګواښ دی، ترڅو جرمني په ناټو تړون کې ونډه واخلي او زیاته بسپنه ورکړي. برلین د خپل ملي عاید ۱.۲سلنه (۴۲ میلیارده ډالر) په نظامي برخه کې لګوي.))

د امریکا او جرمني سوداګریز توازن ډېر په کښته لور روان دی، چې کابو ٦٠ میلیارده یورو کېږي. په ۲۰۱٦ م کال کې د جرمني او امریکا د سوداګرۍ کچه ١٦٥ میلیارده یورو ته ورسېدله، چې ۱۰۷ میلیارده یورو له جرمني څخه د امریکا واردات وو...» او موږ همدا رنګه ویلي وو: «په اوروپایي فضا کې جرمني مشرتابه په سیاسي او اقتصادي کچه را ټوکېدونکی ځواک دی، دا هغه څه دي چې جرمني یې د امریکا د تګلارو پر وړاندې مخالفت ته هڅولی دی او جرمني له امریکا سره خپله شخړه ډاګیزه کوي. که یاد حالت دوام پیدا کوي، نو اروپا به په زیاته کچه کمزورې شي او په پای کې به اروپا د جرمني له لورې بشپړه مهار شي.

4. جرمني د ټرمپ د ګواښونو پر وړاندې بې تفاوته دی، پرهمدې بنسټ ټرمپ جرمني د خپل ځان پر وړاندې یوه ننګونه بولي، په ځانګړې توګه کله چې ده د اوروپایي اتحادیې پر وړاندې خپله دښمني څرګنده کړه او جرمني ته یې د اروپا د پیاوړې اقتصادي بازار په سترګه و کتل. دی جرمني ته د هغې عرادې په سترګه ګوري، چې په نړیوال ډګر کې د نړۍ سیاست مخ ته بیایي. له همدې امله ټرمپ یوازې پر جرمني نیوکه وکړه او په سل ګونو میلیاردو ډالرو غوښتنه یې وکړه، د هغه امنیت په بدل کې چې امریکا د دوهمې نړیوالې جګړې راهیسې جرمني ته د هغه زمینه برابره کړې. ده تر سرمشرېزې وړاندې د ناټو سرمنشي سره په ناسته کې پر جرمني لفظي برید وکړ او داسې یې وویل: «جرمني د روسیې په بند کې دی، ځکه چې هغه خپله ډېره انرژي له روسیې

څخه لاسته راوړي. دوی په میلیاردونو ډالره روسیې ته ورکوي او موږ د روسیې پر وړاندې دوی خوندي کوو. دا څرنګه موږ توجیه کولی شو؟ دا ناعادلانه ده». ټرمپ تر سرمشرېزې مخکې زیاته کړه: «جرمني په بشپړه توګه د روسیې له لوري مهاربېږي، ځکه دوی د ٦٠ سلنې څخه ۷۰ سلنې پورې انرژي او یوه نوې نل لیکه له روسیې څخه ترلاسه کوي او تاسو ماته وایاست چې دا مناسبه ده، خو زه فکر کوم دا مناسبه نه ده او زه فکر کوم چې دا د ناټو لپاره ډېره بده ده». سرچینه: (بي بي سي، د ۲۰۱۸ م د جولای ۱۲مه)
د جرمني لومړۍ وزیرې انګیلا میرکل په ځواب کې ور ته وویل: «جرمني خپلې تګلارې لري او خپلواکې پرېکړې کوي... ما پخپله هغه حالت تېر کړی دی، چې جرمني یوه برخه د شوروي اتحاد له لوري اداره کېدله. زه نن ډېره خوشاله یم چې موږ د جرمني فدرالي جمهوریت کې متحد او خپلواک یو. نو د همدې لپاره موږ ویلی شو چې موږ خپلواکې تګلارې جوړوو او خپلواکې پرېکړې کوو». د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هیکو ماس وویل: ((موږ نه د روسیې او نه هم د امریکا بندیان یو ( بي بي سي، ۲۰۱۸ د جولای ۱۲.)) د ناټو د سرمشرېزې پر مهال، ټرمپ او میرکل پر خپلو کړو خبرو سترګې پټې کړې او د ناټو د نوي دریځ په لور یې مخه کړه، ترڅو دودیز انځور واخلي. ټرمپ په بیا بیا د نارډ سټریم د ګازو نل لیکې پروژه- هغه چې روسیه له جرمني سره نښلوي وغندله او د هغې د پرېښودلو غوښتنه یې وکړه. ځینې اروپایي هیوادونه د یادې پروژې له غځېدو سره مخالف دي، ځکه د دوی په وینا دا د اروپایي اتحادیې له تګلارې سره سمون نه خوري. پولنډ په دې اند دی چې اروپا یادې نل لیکې ته اړتیا نه لري. « نارډ سټریم د پروژې هغه ماډل دی چې روسیې ته پیسې ورکوي او د پولنډ امنیت ګواښي». دپولنډ د بهرنیو چارو وزیر جسیک چیپټویکز د ناټو مرکز ته په را رسېدو یادې څرګندونې وکړې. (AFP، ۲۰۱۸ د جولای پر ۱۱ مه)

دی د ټرمپ په استازیتوب خبرې کوي. دا ځکه چې پولنډ د امریکا پیروي کوي او په اروپایي اتحادیه کې د امریکا لپاره کار کوي. امریکا له ډېر مهاله په اروپایي اتحادیه کې دننه د هغې د له منځه وړلو لپاره کار کوي. خو هغه څه چې د ټرمپ په پېر کې نوي دي، دا دي چې دی په ډاګه د اتحادیې د له منځه وړلو په موخه هڅې کوي، د ټرمپ لپاره له اروپا د دوه سلنې دفاعي لګښت اخیستل یوه برخلیک ټاکونکې موضوع ده، ترڅو خپل بری ثابت کړي. له ده څخه مخکنی ولسمشر اوباما په دې کې پاتې راغی چې له اروپایانو څخه تر دوه سلنه پورې دفاعي بودجه واخلي. دغه کار به په کوردننه د ټرمپ شهرت پیاوړی کړي او د جمهوریپال ګوند په منځني دوره ټاکنو کې او د ده په دوهم ځلې ټاکنو کې د ګټلو موکه زیاتوي.

5. خو فرانسه په دې تړاو ډېره حساسه او ځواب ویونکې وه. د فرانسې ولسمشر مکرون و ویل: «فرانسه به د ناټو د ټاکل شویو موخو د پوره کولو په موخه تر ۲۰۲۴م کال پورې دوه سلنه دفاعي بودجه زیاته کړي» او زیاته یې کړه: «د یاد تړون هوکړه تر هغه وخته دوام مومي چې دغه بوج په برابره توګه و وېشل شي». ده وویل: «ټرمپ ټینګار وکړ چې امریکا د یاد تړون د دفاعي بودجې په ورکولو کې له پخوانیو شکونو سره سره ژمنه ده او ټرمپ د ۲۰۱۸ م کال د جولای پر ۱۲ مه چې د پنجشنبې له ورځې سره سمون خوري په مستقیمه توګه د سرمشرېزې په ترڅ کې له ناټو څخه د وتلو ګواښ و نه کړ». ( رویټرز، ۲۰۱۸ م کال د جولای ۱۲ مه)

د يادونې وړ ده چې فرانسه په اوسني وخت کې د ناخالص کورني تولید ۱.۸ سلنه د ناټو دفاعي بودجې ته ورکوي. خو فرانسه هڅه کوي چې له امريکا سره نږدې اړيکې ولري، ترڅو په نړيواله کچه رول ترلاسه کړي. سربېره پر دې چې فرانسه په فرانسويتوب وياړي، خو له اروپايي اتحاديه څخه د وتلو تابيا نه لري، که څه هم د جرمني له بيا راپورته کېدو څخه په وېره کې ده. فرانسه کله ناکله د اروپايي اتحاديې په پلوۍ کار کوي، لکه: د اوو سترو صنعتي هيوادونو (G7) په سرمشرېزه چې په کاناډا کې ترسره شوه او د ټرمپ د سوداګريزه جګړې او د ايران له اټومي تړون څخه د وتلو پر مهال، خو په ځينو نورو وختونو کې د امريکا ملاتړ کوي لکه د بروکسل په وروستۍ سرمشرېزه کې.

6. ټرمپ څرګنده کړه چې امريکا له ناټو څخه وتو ته چمتو ده، که څه هم په دې کار يې تر اوسه لا لاس نه دی پورې کړی، خو ياد ګواښ تراوسه پاتې دی. ده د خپل متحدينواو دښمنانو پر وړاندې جګړه اعلان کړه. دا د امريکا په تګلاره کې يو نوی لوری په ګوته کوي، چې د بې باکه ولسمشر له لوري پرمخ وړل کېږي او دی چمتو دی چې له نورو تړونونو څخه هم ووځي. موږ د ۲۰۱۸ م کال د جون پر ۱٦مه، د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي وو: «دا ټول کارونه ښيي چې سوداګريزه جګړه د امريکا لپاره ډېره مهمه ده، هغه مالي کړکېچ چې په ۲۰۰۸ م کال کې پېښ شو او ۲۰ ترېليونه څخه لوړ زيان يې واړوه، امريکا يې سخته اغېزمنه کړله. دا چې ولسمشر ټرمپ يو سوداګر سړی دی او هڅه کوي چې د امريکا اقتصاد وژغوري، نو دا شعار زمزمه کوي «لومړۍ امريکا». ياد شوي ګواښونه هغه بنسټونه ډېر ځپي چې د امريکا له لورې د نړيوال نفوذ په موخه د اوږد مهال لپاره کارول کېږي، چې په دې سره به نړيوال نظم له منځه ولاړ شي او داسې نوی نړيوال حالت به رامنځ ته شي، چې امريکا به په کې د نړۍ له مشرۍ څخه لاس په سر شي. امريکا غواړي چې نور هيوادونه بسپنه ورکړي او د نورو په مرسته د سوداګرۍ توازن په خپله ګټه وڅرخوي. دوی يوازې خپل حاکميت او سوداګريزې ګټې خوندي کوي، پرته له دې چې له نورو څخه په دې برخه کې مرسته وغواړي، ترڅو نور هيوادونه په خپل مهار کې وساتي او هغوی د امريکا تګلاره تعقيب کړي».

7. له همدې امله د متحدينو ترمنځ سوداګريزه جګړه تودېږي. يادې پېښې د متحدينو ترمنځ، شوي تړونونه له منځه وړي، اقتصاد له رکود سره مخ کوي او سياسي جګړو ته لاره هواروي. که د هستوي وسلو د کارولو وېره نه وي، د تېرو دوو نړيوالو جګړو ترڅنګ به دريېمه نړيواله جګړه هم پېښه شي. ياد متحدين د نړۍ لپاره د هغې ايډيولوژۍ له امله چې دوی منلې، د شر او فساد سرچينه دي. د دې ايډيولوژۍ د عمل معيار ګټه ده او يوازېنۍ ارزښت يې مادي دی چې په ټولنه کې مخ پر خورېدو ده. نو پر همدې بنسټ نړۍ يو رښتني دولت ته اړتيا لري- د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پر طريقه راشده خلافت ته. هغه دولت چې په نړۍ کې د مادي ارزښتونو تر څنګ معنوي، اخلاقي او بشري ارزښتونه خپروي او يوازې به مادي ارزښت ته کار نه کوي. الله سبحانه و تعالی خپل رښتني بندګان - هغه چې د الله سبحانه و تعالی له رسول (صلی الله عليه و سلم) سره اخلاص لري او دوی شپه او ورځ د ياد رښتني دولت د تاسيسولو لپاره هلې ځلې کوي، نصرت ورکوي. د دوی ژبې د الله سبحانه و تعالی په يادولو سره تل لندې وي او د دوی د بدن غړي د الله سبحانه و تعالی د وېرې له امله رېږدي او د الله سبحانه و تعالی پر برۍ دوی ډاډمن دي.

**(إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ)**

[الغافر: ۵۱]

*ژباړه: بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، په دنیایي ژوند کې مرسته کوو او په هغه ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي.* [الغافر: ۵۱]

**۱۴۳۹ هـ.ق، د ذي القعدې ۴ مه**

**۲۰۱۸ م، د جولای ۱۷ مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**